الدرس الرابع
العبادة في الاسلام

څلورم درس
اسلام کښې دعبادت مقام

اسلام کښې عبادت تر هغه وخت پورې نه قبلیږی ترڅو چې د الله تعالی دپاره خالص نوی ، او د رسول الله علیه وسلم د سنتو سره موافق نوی ، او په هغه کیفت باندی نوي کوم کیفت چي رسول اللهﷺ بیان کړی وی، ددی دپاره یو څو اسباب دی :

(۱):الله تعالی په اخلاص یاندی حکم کړی دی ، چی د یو الله تعالی بندګی وکړی او بل څوک ورسره مه شریک کوی ، [وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا] {النساء:36} « دیو الله بندګی وکړی مه شریکو د هغه هیڅ یو څیز» (۲): الله تعالی خپل ځان خاص کړی دی په شرعت جوړولو باندی صرف د یو الله حق دی شرعیت جوړول څوک چی د الله د شریعت نه په بله طریقه عبادت کوی هغه د الله سره شرک کوی په شریعت کښې ،(۳) الله تعالی زمونږه دپاره دین کامل کړی دی څوک چی د ځانه په دین کښې بدعت جوړوی هغه په دین باندی د تقصان تهمت لګوی ،(٤) که چرته د انسان دپاره ددی خبری اجازت وی چی په خپله خوښه باندی عبادت کوی نو د هر انسان به د هغه د عقل مطابق ځانله طریقه دعبادت وی ، د اسلام ارکان: د اسلام ارکان چی الله تعالی ورباندی حکم کړی دی پنځه ارکان دی (۱) د الله تعالی د توحید ګواهی کول ،او د رسول الله ﷺ د رسالت ګواهی کول(۲) د لمونځ پابندی کول (۳) زکات ورکول(٤) د رمضان روژے نیول(٥) بیت الله حج کول،اسلام زمونږه نه څه غواړی: اسلام زمونږه نه دا مطالبه نه کوی چی دنیا ته پوره شاه راوګرځوو ، او جوماتونو کښې أوسیږو ، بلکه اسلام زمونږه نه مطالبه کوی چی د هر چا حق أوپیژنو او بیا ئي آداء کړو ، هر یو مسلمان د خپل الله حقونه أوپیژني او آداء ئي کړی ، د بندګانو حقونه آداء کړی خپل بدن حق آداء کړی ، د مور او پلار حقونه د د ښځی بچو حقونه ، د علماؤ مشرانو کشرانو حقونه آداء کړی چی یو بهترینه اسلامی معاشره وجود ته راشی ،

اسلام مخکښې تول ګناهونه ختموی: د الله تعالی لوئي فضل او مهروبانئ ده چی اسلام باندی مخکښې تول ګناهونه معافشی که یو کافر مسلمان شی هغه مخکښنې تول ګناهونه ورته الله تعالی معاف کړی په خپل فضل او مهروبانئ سره ، او اسلام کښې د توبئ دروازه هم هر وخت کهولاؤ وی ځکه انسان خطاء کار دی او غوره خطاء کار توبه وستونکئ وی هرکله چی انسان غیر معصوم دی نو الله تعالی ورته د توبے دروازه کهولاو کړی ده ،

انسان په اسلام کښې به څنګه داخلیږیة: اسلام کښې داخلیدل واجب دی په هر انسان باندی ، ځکه د نجات او د جنت لاره بله نشته سواه د اسلام نه څوک چی اړده لری په اسلام کښې د داخلیدلو ، ایمان به راوړی چی د الله تعالی نه علاوه بل څوک د عبادت لائق نشته او محمد ﷺ د الله رسول دے ، بیا به د اسلام بنیادی ارکانو باندی عمل شروع کړی لکه لمونځ روژه زکات حج وغیره